# د ماشومانو جواز لرونکی پاملرنې واکسین کولو اړتیاوې

د لا ښه ژوند لپاره د واکسین لهلارې معافیت ترلاسه کړئ!



IOWA Health and Human Services
Public Health

## واکسینونه: په مخنیوي کې ستاسو تر ټولو غوره ستنه.

که تاسو د واکسینونو په اړه پوښتنې لرئ، نو د خپل روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ.

د واکسینونو او ناروغیو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ

- hhs.iowa.gov/public-health/immunization
- www.immunize.org
- www.cdc.gov/vaccines
- www.aap.org

IOWA Health and Human Services
Public Health

09/2024



### د 4 میاشتو عمر څخه کم

په دغه چارټ کې د ماشومانو په جواز لرونکي مراقبت کې د ګډون حداقل اړین شرایط ځای په ځای شوي دي. منظم واکسیناسیون په 2 میاشتنۍ کې پیلیږي.

### 4 څخه تر 5 میاشتو عمر پورې

**1 دوزدیفتري/تیتانوس/توري ټوخلې**، پولیو، **Hib**، نموکوکل

### 6 څخه تر 11 میاشتو عمر پورې

**2 دوزونه** دیفتري/تیتانوس/توري ټوخلې، پولیو، **Hib**، نموکوکل

### 12 څخه تر 18 میاشتو عمر پورې

**3 دوزونه** دیفتري/تیتانوس/توره ټوخله

**2 دوزونه** پولیو

**2 دوزونه Hib** یا **1 دوز** د 15 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر کې ترلاسه شوی.

**3 دوزونه نیوموکوکل** یا **2 دوزونه** که چیرې دواړه دوزونه د 12 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر کې ترلاسه شوي وي.

### 19 څخه تر 23 میاشتو عمر پورې

**4 دوزونه** دیفتري/تیتانوس/توره ټوخله (Pertussis)

**3 دوزونه** پولیو

**3 دوزونه Hib** که چیرې یو دوز د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې وروسته ترلاسه شوی وي یا **2 دوزونه** که چیرې لومړی دوز د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې وروسته ترلاسه شوی وي یا **1 دوز** که چیرې دوز د 15 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر کې ترلاسه شوی وي.



### 19 څخه تر 23 میاشتو عمر پورې

**4 دوزونه نیوموکوکل** که چیرې یو دوز د 12 میاشتو په عمر خي یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوی وي؛ یا **3 دوزونه** که چیرې 1 یا ډیر دوزونه د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوي وي؛ یا **2 دوزونه** که چیرې دواړه دوزونه د 12 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر کې ترلاسه شوي وي.

**1 دوز** شري/سرخکان

**1 دوز ویروسیلا** یا د طبیعي ناروغۍ یوې باوري تاریخچې.

### د 24 میاشتو عمر او له دې څخه زیات عمر

**4 دوزونه** دیفتري/تیتانوس/توره ټوخله (Pertussis)

**3 دوزونه** پولیو

**3 دوزونه Hib** که چیرې یو دوز د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوی وي؛ یا **2 دوزونه** که چیرې لومړی دوز د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوی وي؛ یا **1 دوز** که چیرې دوز د 15 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر کې ترلاسه شوی وي. د Hib واکسین د 60 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر لرونکي خلکو لپاره اړین ندی.

**4 دوزونه نیوموکوکل** که چیرې یو دوز د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوی وي؛ یا **3 دوزونه** که چیرې 1 یا ډیر دوزونه د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوي وي؛ یا **2 دوزونه** که چیرې لومړی دوز د 12 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوی وي؛ یا **1 دوز** که چیرې دوز د 24 میاشتو په عمر کې یا له دې څخه وروسته ترلاسه شوی وي. د نیوموکوکل واکسین د 60 میاشتو یا له دې څخه زیات عمر لرونکي خلکو لپاره اړین ندی.

**1 دوز** شري/سرخکان

**1 دوز ویروسیلا** یا د طبیعي ناروغۍ یوې باوري تاریخچې.

## د معافیت لوړولو ازمایښت

### د معافیت لوړولو تصدیق‌پاڼه

د معافیت لوړولو تصدیق پاڼه باید د ماشوم مراقبت جواز لرونکي مرکز ته ورکړل شي چې ماشوم پکې شاملیږي. د اعتبار وړ کرځېدو لپاره، د معافیت لوړولو په یوې معتبرې تصدیق پاڼه کې باید د ماشوم نوم او د زېږېدلو نېټه، د واکسینونو د تطبیق لیکل شوې نېټې شاملې وي او د یو ډاکتر (MD یا DO)، د ډاکتر مرستیال، نرس یا معتبر طبي مرستیال لخوا لاسلیک شوې وي.

### د واکسین کولو موقتي تصدیق پاڼه

د معافیت لوړولو موقتي تصدیق پاڼه کېدای شي د متحده ایالاتو له یوې ښوونځي څخه بل ته لیږدونکي زده کونکي یا هغه ماشوم ته ورکړل شي چې پیل یې کړی وي، مګر د خپل عمر لپاره یې اړین واکسینونه نه وي بشپړ کړي. د موقتي شاملیدلو وړ کیدو لپاره، ماشوم باید له خپل عُمر سره سم د اړینو واکسینونو لږ تر لږه یو دوز ترلاسه کړي.

د اړین واکسین راتلونکی دوز باید ژر تر ژره ورکړل شي مګر د مخکیني دوز (دوزونو) څخه 60 ورځو څخه ډېر نه وي. که چېرې د 60 ورځې په پای کې، ماشوم د واکسین راتلونکی اړین دوز(دوزونه) ترلاسه نه کړي، ماشوم نه شي کولای د ماشوم مراقبت جواز لرونکي مرکز کې شامل شي.

### طبي معافېدا

که چېرې د روغتیایي پاملرنو خدماتو یو وړاندې کوونکی پر دې باور وي چې د معافیت لوړولو اړوند واکسین (واکسینونه) د ماشوم لپاره زیان لري، کېدای شي طبي معافي ورکړل شي. د اعتبار وړ ګرځېدلو لپاره، د معافیت لوړولو تصدیق پاڼې څخه د طبي معافېدا پاڼه باید بشپړه شي او د آیووا جواز لرونکي ډاکتر (MD یا DO)، د ډاکتر مرستیال یا نرس له لورې لاسلیک شي.



### مذهبي معافېدا

که چېرې د معافیت لوړولو واکسینونه له یوه رښتیني او واقعي مذهبي باور سره په ټکر کې وي او د علمي، طبي یا شخصي نظر پر بنسټ ولاړ نه‌وي، کېدای شي د مذهبي معافېدا یوه پاڼه ماشوم ته ورکړل شي. د اعتبار وړ ګرځېدلو لپاره، د واکسین د معافیت مذهبي سند باید د ماشوم نوم او زېږېدلو نېټې سره بشپړه شي او د اشخاصو یا د ماشوم والدینو یا ولي لخوا لاسلیک شي.

### اجرایي احکام

هغه زده کوونکي چې د ښوونځي په لومړی ورځ، ښوونځي ته د معافیت لوړولو تصدیق پاڼه، د معافیت لوړولو موقتي تصدیق پاڼه یا د معافیت لوړولو تصدیق پاڼې څخه د معافېدا پاڼه وړاندې نه لري، د ماشوم مراقبت جواز لرونکي په مرکز کې شاملېدلای نه شي.

### د معافیت لوړولو سوابق

مهمه ده چې خپل د معافیت لوړولو سوابق په یوه خوندي ځای کې وساتئ. د معافیت ازمایښتونه کېدای شي د ژوندانه په اوږدو کې اړین وي. د آیووا د روغتیایي او بشري خدماتو اداره د معافیت لوړولو سوابقو کاغذي نسخې نه‌ساتي. سره له‌دې، د معافیت لوړولو سوابق کېدای شي د آیووا د روغتیایي او بشري خدماتو اداره (IRIS) کې ثبت شي. IRIS ته د واکسیانسیونونو ثبتولو په هکله خپل د روغتیایي پاملرنو خدماتو له وړاندې کوونکي سره وغږېږئ او د خپلو سوابقو فوټوکاپي ترلاسه کړئ.

### د آیووا د واکسین ورکولو قانون

په دغه بروشور کې د هغه ماشوم لپاره چې په آیووا کې د ماشوم جواز لرونکي مراقبت ته ځي د معافیت لړترلړه اړتیاوې په ګوته کوي. دا اړتیاوې د آیووا قانون او د معافیت لوړولو چلندونو مشورتي کمیټې (ACIP) سپارښتنو پر بنسټ دي او په دله ایزو ترتیباتو کې د روغ جوړ ماشوم ساتلو لپاره لړترلړه اړتیاوې دي.

د آیووا د معافیت لوړولو اړتیاوې په ټولو هغو افرادو باندې تطبیق کیږي چې په آیوا کې د ماشوم جواز لرونکي مراقبت مرکزونو ته ځي.

